# افغانستان اسلامي جمهوريت
# چاپيريال ساتنې ملي اداره

**مقالې موضوع:- د افغانستان په لويو ښارونو کې د هوا د ککړيدلو عوامل او د هغوي حل لارې**

Ketabton.com

**ترتيب کوونکي:- رنځپوه عرفان پښان کاموي**
**د ننګرهار د طب پوهنځي د پنځم کال محصل**
**0782292067**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړي برخه: چاپيريال پيژندانه

**چاپيريال تعريف:-** ټولو هغو خارجي فکټرونو ته(د ژونديو او غير ژونديو موجوداتو په شمول) چې د انسان په ګرد چاپيره کې موجود دي، استعماليږي. د نوي مفکوري مطابق چاپيريال نه يوازي اوبو، هوا او خاوري ته چې زمونږ ګردچاپيره موجود دي ويل کيږي بلکی د کومو اقتصادي او اجتماعی شرايطو لاندې چې مونږ ژوند کوو هم په برکي نيسي. يا په بل عبارت دژوندکولومحيطياهرهغه‌څه‌چې‌موږيې‌احاطه‌کړي‌يووله‌چا پيريال‌څخه‌عبارت‌دي.

د مځکي طبعي چاپېريال د (ايکوسيسټم) په نامه ياديږي، چي ټول انسانان، نباتات، غرونه، واوري، فضا، ډبري، سمندرونه، دريابونه او د هغوي طبعي منابع لکه اوبه، برېښنا، اور، هوا، اقليم او داسي نور پکښي شامل دي. الله (ج) ايکوسيسټم داسي جوړ کړئ دئ، چي په دي سيسټم کي ټول موجودات يو له بل سره په مستقيم ياغير مستقيمډول تړاو لري او د هر يوه کمښت يا ډېرښت پر دا نورو مثبت يا منفي تاثير کوي

**چاپيريال ډولونه:-** د تشريح له نظره چاپيريال په دري ډوله دي:

۱- فزيکي چاپيريال: اوبه، هوا، خاوره، کور جوړول، کثافت، تشعشعاو نور

۲- بيولوژيکي چاپيريال: نباتي او حيواني ژوندي مجودات لکه بکتريا، ويروسونه، حشرات، موږکان او حيوانات

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- اجتماعي چاپيريال: رواج، کلتور، عادات، وظيفه، مذهب او نور

**دوهمه برخه: نارمل هوا جوړښت او پېژاندانه**

د انسان شاوخوا چاپيريال هوا احاطه کړي دی او د ټولو ژونديو موجوداتو ژوند پري ولاړ دي. هوا عضويت ته اکسجن انتقالوي او ژوند بخښونکي دنده اجرا کوي، ددي ترځنګ د هوا نوري دندي عبارت دي له: د عضويت يخ ساتل، د نباتاتو لپاره د اکسجن برابرول، د ځانګړو حسونو لکه بوي او غږ د انتقال وظيفه هم لري.

د يو انسان لپاره د هوا اړتيا ۱۰-۲۰ متره مکعب‌په ورځ کې اټکل شوي.

## هوا ترکيب composition of air :-

هوا د ګازاتو يو ميخانيکي مخلوط دي چې ترکيب يې په لاندي ډول دي:

نايتروجن 78 فيصده، اکسجن 20.93 فيصده، کاربن ډاي اکسايد 0.03 فيصده، اوبو بخارات 0.06 فيصده.

همداراز د هوا په ترکيب کې يو شمير نور ګازات لکه ارګون،xenon ، کريپتون، نيون، هيليوم او په لږه اندازه امونيا او نور معلق مواد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دريمه برخه:- افغانستان په لويو ښارونو کې د هوا د ککړېدلو عوامل او د هغوي حل لارې:-

### د هوا ککړتيا Air pollution څه ته وايي؟

د هوا د نارمل ترکيب په بيلانس کې د تغير راتلل او دغه ترکيب ته د خارج څخه د ځينو موادو اضعافه کيدلو ته د هوا ککړتيا وايي.

### د هوا د ککړتيا عوامل په لويو ښارونو کې:-

۱-ډېر ګردجن او خامه سرکونه:- د افغانستان د چاپېريال ساتنې ملي اداري NEPA يوه ارزونه ښيي چې د پلازمېنې کابل ٪۴۰ سلنه هوا د خامه سړکونو، لارو کوڅو او د لويو موټرنو د خامه سرايونو ګردونه ککړوي، ٪۱۰ سلنه نقليه وسايط، ٪۱۲ سلنه د خښتو بټۍ او٪۳۰ سلنه د کورنيو او تجارتي ساحو فعاليتونه.

۲-صعنتي فابريکي او د هغوي waste مواد:- فابريکې هم زيات مقدار الوده کوونکي مواد اتموسفير ته خارجوي لکه هايدروجن فلورايد، هايدرو کلوريک اسيد Hcl، عضوي هلايډونه، کاربن مونو اکسايد، کاربن داي اکسايد، اوزون، هايدروجن سلفايد او نور توليدوي او پدي شکل د هوا د ککړتيا سبب ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳-په کورونو، فابریکو او میلمستونو کې د سون توکو لکه لرګیو، سکرو، تیلو له سوځولو له امله ګرد، So2 او نایتروجن اکساید منځته راځي او د هوا د ککړتیا لامل کیږي.

۴-۸ – د ونو پریکول، د شنه سیمی کمیدل او د زراعت له منځه تګ

۵ – د موټرو دغیر معیاری تیلو نه کار اخیستنهاو د موټرو، نقلیه وسایطو د توقو حد نه زیاتوالي مثلا د بي بي سي یوې خیړنې له مخي صرف په کابل ښار کې د 500-800 زرو په شاوخوا کې نقلیه وسایط شته پداسي حال کې چې کابل صرف د دیرش زرو نقلیه وساطو ظرفیت لري. چې همدغه د نقلیه وسایطو زیاتوالي د کابل ښار د 36 فیصده د هوا د ککړتیا سبب شوي. بل مثال د جلال اباد د ښار دي چې د انعکاس تلویزون د یو راپور پر اساس د جلال اباد ښار د هوا د ککړتیا ستر سبب دریکشو زیاتوالی او د ښاریانو له خوا له ډیزلي بریښنا څخه استفاده کول ښايي. همداسي د کلید ګروپ د یو راپور په اساس په هرات ښار کې د 151 زرو نه ډیر راجستر شوي نقلیه وسایط شته دا چې نور به څومره غیر راجستر ګرځي دا نو معلومه نده.

۶ – په ډیریو وختونو کی د بریښنا د نه موجودیت له امله د جنریترونو نه ګټه اخیستنه.

۷-نفوسو زیاتوالي:- د افغانستان په لویو ښارونو لکه کابل، هرات، مزار شریف، جلال اباد او کندهار د نفوسو شمیر ورځ په ورځ د زیاتیدو په حال کې دي. او دغه د نفوسو زیاتوالي ددي سبب شوي ترڅو شنې ساحي له

(c) ketabton.com: The Digital Library

منځه ولاړې شي او کور جوړول Housing د زياتوالي سبب وګرځي. کابل کی د نفوسو شمیرپه ډیره کمه سیمه کی ډیر زیات دی، چی دغه تراکم د نفوس ددی باعث ګرځیدلی چی د کابل غرونه، غونډی او شنی ساحه په مسکونه‌سیمو تبدیلی شی.

۸- د افغانستان لويو ښارونو کې د منظم کانالایزیسون نشتوالي

۹-Miscellanous علتونه‌لکه اورلګیدنه،کثافاتو سوځول، pesticide spraying، بادونو په وسیله د لوګیو او ککړو ګازاتو انتقال

۱۰-له طبیعي زېرمو څخه ناجايزه، نا معقوله، غير فني او غير قانوني ګټه اخيستل

۱۱-د هيواد روانه اوږده او بې مفهومه جګړه، چي د ګڼو معنوي او مالي زيانونو د رامنځته کېدو پرڅنګ د ژوند چاپېريال د تخريب اساسي سبب ګرځېدلې ده.

۱۲-له کليوالو سيمو څخه د خلګو مهاجرت او په ښاري سيمو کي د نفوسو ډېرښت او تراکم.

۱۳-د وګړو ناغيړی. د خپلو کورونو ځځلی او نور ګند په خلاسه ساحه کی غورځول.

۱۴-په ازاده فضا کې تش او ډکې بولي(urination and defication) کول

۱۵-ناامني، بيکاري، جنګونه او انفجارونه

۱۶- د ټولنې په سطحه د سواد، ښوونې او روزني د کچې کموالي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هوا الوده کوونکي ذرات:-

د سلو څخه زيات ذرات موجود دي چې د هوا د الوده ګۍ سبب کيږي چې مهم يې په لاندي ډول دي:

Co، Co2، هايدروجن سلفايد، سلفر دای اکسايد، سلفر ترای اکسايد، نايتروجن اکسايد، فلورين مرکبات، عضوي مرکبات لکه(هايدروکاربنونه، الديهايدونه، کيتونونه او عضوی اسيدونه)، اوسپنه، زينک، ارسينيک،راديواکتيف مواد، اوزون، asbestose، benzene, mercurey, beryllium, fluoride, lead

## د هوا د ککړتيا مخنيوي او د هغوي حل لارې:-

د هوا د ککړتيا مخنيوی په دوه ډوله کېدای سي، چي يو ئې په طبيعي شکل د ککړېدو مخنيوی دئ او بل ئې په غير طبيعي شکل دئ.

١-د هوا الوده ګې د ځينو خودبخوده يا طبيعي تصفيه کوونکو ميکاميزومونوپه واسطه کنترولېږي لکه sun light، wind، باران، plant life او نور

الف:wind:- ددي عمل پواسطه د هوا ناپاک ذرات جارو او منحل کيږي او نه پريښودل‌کيږي چې سره يوځاي شي.

ب: sunlight:- د لمر وړانګي د هوا د ککړو ذراتو او بکترياګانو د له منځه وړلو سبب کيږي.

ج: Rain:- باران اکثره د ککړو ګازاتو او معلقوذراتو د وينځلو سبب کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د: plant life:- شنه نباتات کاربن دای اکساید مصرفوی او اکسجن تولیدوي چې په نوموړي طریقه د هوا د الوده ګي مخنیوي کیږي.

۲-د هوا د کنټرول لپاره له هغه طریقو ګټه اخیستل کوم چې WHO د الوده ګې د  کنټرول‌او مخنیوي لپاره پیشنهاد کړي او عبارت دي له:

الف:Containment:- په هوا کې  زهرجنو موادو خپریدو مخنیوي ته ویل کیږي.

ب: Replacement:- د نوو تخنیکي طریقو د عملي کولو په اساس د هوا د الوده ګۍ مخنیوي دي لکه د لرګیو او سکرو پرځاي د برق او ګازو نه کار اخیستل.

ج: Dilution:- دا د چاپیریال خودبخوده تصفیه کولو عملیه ده لکه د شنو بوټو او نباتاتو زیاتوالي همدارنګه د فابریکو او کورونو ترمنځ green belt جوړول.

د: Legislation:- د هوا د الوده ګي د کنټرول لپاره ځیني لایحو او قوانینو وضع کول

۳- هوا تعقیم کول Disinfection of air:- پدي وروستیو کې د هوا تعقیم  ته زیاته توجو اوختي ده. هغه میتودونه چې هوا د تعقیم لپاره استعمالیږي عبارت دي له:

الف:Mechanical Ventilation:- د هوا د الوده ګیو او د بکتریاوو تعداد په هوا کې کموي

ب: Ultraviolet Radiation:- دا طریقه خاصو ځایونو کې لکه تیاترونو او انتاني وارډونو کې استعمالیږي.

ج:Chemical mist

(c) ketabton.com: The Digital Library

د: Dust control

۴-د خښتو بټۍ او د کچو پخولو کُرې  باید د ښاري او استوګني له سیمو څخه لیري جوړي سي؛ ترڅو مضره دودونو او لوګي ئې و ښاري سیمو ته ونه رسیږي

۵-په کار دا ده، چي د هیواد په سرحدونو کي د واریدېدونکو تیلو او ګازو د کیفیت د کنترول له پاره مجهز لابراتوارونه جوړ کړل سي او هلته هیواد او اولس ته متهعد مسلکي کسان پر کار پکښي وګمارل سي؛ تر څو بې کیفیته تېل او ګاز هیواد ته وارد نه کړل سي.

۶-د فوسیلی موادو په سوځیدو کې کموالي

۷-د زړو ماشین الاتو او نقلیه وسایطو مخنیوي

۸-د شنو بوټو او نیالګیو کرل او د ځنګلونو ساتلو ته ئې توجه کول او د قطع کولو او قاچاق مخنیوی ئې کول.

۹-نفوسو د تراکُم او ډېروالي تر یوه حده مخنیوی وشي.

۱۰-د صنعتي فعالېتونو له پاره د ښار او د استوګني له سیمو څخه لیري د مناسبو ځایونو ټاکل

۱۱-د نقلیه وسایطو او موټر سایکلونو او ریکشو پرځاي د بایسکلونو څخه ګټه اخیستل لکه د چینایانو په شان

۱۲- هغوعراده جاتو چلول محدودول، چي اساسي ترمیم ته اړتیا لري او تر ترمیم او جوړښت وروسته د بیا استفادې اجازه ورکول.

۱۳-د ښاروالۍ لخوا د ښار په ټولو ساحو کې د کثافت دانو نصبول

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۴- په لویو ښارونو کې د عامه تشنابونو او لیټرینونو جوړول ترڅو خلک په ازاده هوا کې له رفع حاجت څخه مخنیوي وشي.

۱۵- خلکو ته د هوا د ککړیدو د مخنیوي په موخه عامه پوهاوي ورکول

۱۶-لرګیو، سکرو او د نفتو د استعمالولو پر ځای له هغي انرژۍ څخه و استفادې کولو ته زمینه مساعدول، چي د تجدید وړ وي لکه لمریزه، بادي، بایوګاز او آبي انرژۍ.

۱۷-د لویو ساختمانونو، روغتونونو، پوهنتونو، ښونځیو، هوټلونو او د دولتي او غیر دولتي ادارو مسؤلین باید د خپلو مرکزي حرارتي دستګاوو د فني نیمګړتیاوو او مشکلاتو په لیري کولو مجبور کړل سي؛ ترڅو له مناسبو محروقاتو څخه استفاده وکړي

۱۸-وخت پر وخت د تیلو پمپونو تېل په لابراتوارونو کي معاینه کړي ترڅو د بې  کیفیتهتیلو د خرڅولو مخه ونیول سي؛ دا ځکه چي په موټرونو کي د بې کیفیته تیلو مصرف د زیاتو لوګیو او دودونو د تولید عامل ګرځي.

۱۹-کچه سرکونه او کوڅی باید ټولی پخی کړای شی.

۲۰–- د افغانستان د ټولواوسنیو ښارونو سیمه پراخه کړی شی او هغه خلک چی په غیر پلانی سیمو کی پراته دی ور انتقال شی

۲۱. – په کابل کی باید په هر کور، کوڅه، د سرکونو غاړو او ګلدانونو او همدارنګه په شنو ساحو کی نیالګی ولګولی شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د هوا د ککړتیا اغیزې Effects of air pollution:-

د افغانستان په لویو ښارونو هره ورځ په زرهاوو نفر د ککړي هوا له لاسه اغیزمن کیږي او خپله نارمل روغتیا د لاسه ورکوي. په افغانستان کې د ترهګریزو بریدونه وروسته د مرګونو دوهم غټ علتونه هغه الوده او ککړه هوا ده. د هوا ککړتیا په لاندي دوو طریقو روغتیا متاثره کوي ص:

1. روغتیايي اړخ Health aspect:- روغتیايي اغیزي په دوه ډوله دي:
   A. انی اغیزي: اني تاثیرات یې په تنفسي سیستم کې منځته راځي لکه Acute bronchitis او pneumonia یا سینه بغل.
   B. وروستنۍ اغیزي: عبارت دي له: د سږو سرطان، chronic bronchitis، Emphysema، Bronchial asthma او تنفسي الرژۍ. همدارنګه د سږبو تسمم د شېږ کلني څخه کم عمره ماشومانو کې د نیوروسایکوسوشیل انکشاف وروسته والي لکه دIQ کموالي، ښوونځي سره بي علاقه ګي او د سلوک ستونزي.
2. اجتماعي او اقتصادی اړخ social and Economic aspect:-

   د حیوناتو او نباتاتو د ژوند د منځه وړلو، فلزاتو تخریب، تعمیراتو خرابوالي او د طبیعی ښکلا د کموالي سبب کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماخذونه:-

https://asarnews.org/article/249-1

https://wasiweb.com-2

3-پوهندوي محمد عارف رحماني(چاپيريالي او وظيفوي روغتيا)

sustainable development by IPS – Inter Press Service-4 and IFEJ – International Federation of Environmental Journalists, for the Alliance of Communicators for Sustainable Development

5 – لومړنی څیړنه د کابل د هوا په کیفیت باندی، د دوکتور عتیق صدیقی، د کانونو د وزارت مشاور

6-په نړی کی د هوا د ککړتیا په اړه د څیړنی راپور، د بلک سمیت انستیتیوت،ټایم او ای بی سی چاپیریال ټولنی له لوری

7- چاپيريال ساتنې ملي اداره NEPA

8- tolafghan ورځپاڼه د خان ولي کامران ليکنه

BBC farsi-9

(c) ketabton.com: The Digital Library

مؤلف لنډه پيژاندنه:-



رنځپوه عرفان پټان کاموي
د لعل محمد زوي او د
ننګرهار ولايت د کامې
ولسوالي د شيلام رعتی
کلي اوسيدونکي دي.
کاموي صاحب په
375هجري شمسي کال
کې چې د 1996م کال
سره سمون خوري د
کوچنې اختر په شپه زيږيدلي دي. کاموي صاحب خپلې لومړنۍ زده کړې د کامې ولسوالي په مولوي محمد ابراهيم متوسط ښوونځې کې سرته رسولي دي، او ثانوي زده کړې يې بيا د مراد علی عالي ليسه کې سرته ورسولي، او په 1394 هجري شمسي کال کې تري په اعلی درجه فارغ شو. د همدغه کال د کانکور په ازموينه کې د ننګرهار طب پوهنځي ته بريالي شو. ښاغلي کاموي صاحب اوس هم د ننګرهار د طب پوهنځي د پنځم کال محصل دي.

محترم کاموي صاحب د هغه مينه په اساس چې د پښتو ژبې او پښتنو سره يې لري د خپل ځوانۍ له عمر څخه په ليکوالۍ او ژباړې پيل کړي وه. هېره مو نه وي چې کاموي صاحب د ژبژغورني غورځنګ فعال غړي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

زيات وخت لپاره ددغه غورځنګ د ننګرهار څانګې مسول هم وه.

د پټان نور ليکل شوي اثار عبارت دي له:

۱-علامه سيد حمال الدين افغان ـ ناچاپ

۲-اسلاميک انګليش ټو پښتو ډکشنري ــ ناچاپ

۳-اوپيډ درمل او د هغوي زيانونه ــ ناچاپ

۴-امريکايې رئيس جمهوران وپيژاني ــ ناچاپ

کاموي صاحب د کتابونو ترڅنګ ځينې مقالي هم ليکلي چې عبارت دي له:

۱-د افغانستان سوله کې د پاکستان رول ــ 2020م

۲-د افغانستان لويو ښارونو کې د هوا د ککړتيا عوامل او حل لاري ــ 2020م

د رنځپوه عرفان پټان کاموي د نورو برياوو په هيله

Whatsapp: 0782292067

Email: irfanp518@gmail.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**